DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

۷۶۶

لسم کال - دویمه دوره، ۷٦٦ مه گڼه، پر له پسې ۱۸۳۳ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د غوايي ۱۲ مه - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د جمادي الاول ۱۸ مه ۲۰۱۰ د مې ۲ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

همزمان با تجلیل از روز جهانی کارگر،

جوانی که از بیکاری رنج می برد، خودکشی کرد

همزمان با تجلیل از روز جهانی کارگر، جوانی که از بیکاری رنـج مـی برد، در ولایت هرات دست به خودکشی زد.
سمونوال عبدالرووف احمدی سخنگوی پولیس حوزهٔ غـرب گفت کـه این جوان محمد سلیم پسر نثار احمد نام داشت و صبح دیروز خود را به وسیلهٔ ریسمان چاه منزل خود در ناحیهٔ چهارم شهر ص۳

پر اعدامونو او سوځونو سربیره،

ایران له افغان بندیانو اوس د بدن غړي هم باسي

د ولسي جرګې یو شمېر غړو خبر ورکړ، چې په ایران کې له اعدامېدونکو افغانانو څخه د بدن ځینې غړي ایستل کېږي.
د ولسي جرګې د پرونۍ غونډې د ویناوالو د خبرو ډېره برخه په ایران کې د اعدام شویو افغانانو په اړه ځرخېده.
په همدې اړه خبرې وروسته له هغه په شور ماشور بدلې شوې، کله چې د دایکنډي وکیل صادقي زاده نیلي د ایران په ملاتړ خبرې وکړې.
نیلي وویل، چې ایران دغه کار پر اعدام د محکوم شویو کسانو په خوښه کوي.
دغه ځرګندونې له مخالفت سره مخ شوې او ګڼ شمېر وکیلانو نارې کړې، چې د ولسي جرګې له ادرسه باید د بل هېواد په ګټه خبرې ونه شي.
د کابل استازې شکریې بارکزۍ ټینګار وکړ، چې جرګه باید په ډېره جدي توګه د یوه رسمي لیک په صادرولو له ایران څخه وغواړي، چې له افغان زندانیانو سره داسې سلوک بند کړي.
همدارازد ولسي جرګې بل غړي رمضان بشردوست دایران د دې کړنې په غندلو سره وویل، چې ولسي جرګه باید خپله دروازه وتړي او د ایران پر ضد لاریون وکړي.
بشردوست زیاتوي: ((که مور لاریون وکړو، یو میلیون کابلیان به ژمور پلوي وکړي.))
هغه زیاته کړه، چې د لاریون کوونکو په وسیله باید د ایران سفارت په کابل کې کلابند او ایران اړ کړي، چې له دغو ناوړو کړنو لاس واخلي.
د دې جرګې بل غړي عالمي بلخي هم د ایران پردې کړنې نیوکه کوله او ویل یې، چې ایران وړاندې تردې چې افغان دولت په جریان کې کړي، هره ورځ پر افغانانو د اعدام پروسه پرمخ وړي.
هغه وایي، چې د افغانستان او ایران ترمنځ د زندانیانو د تبادلې په برخه کې ترون شته، خو د هغو بندیانو په برخه کې کوم ترون نه شته، چې پر اعدام محکوم شوي وي. ۳مخ

کندهار هم مورِ او هم طالبانو ته مهم دی

کندهار د مرکزي اسیا او منځنۍ ختیځ لپاره د امریکایي ځواکونو قوماندان جنرال ډېویډ پیټریس داسې مهال سفر کوي، چې هلته د نا امنیو او قومي او سیاسي ستونزو د وژنو لړۍ پراخه شوې ده.
وړاندې افغان ولسمشر کندهار ته د خپل وروستي سفر پر مهال ویلي وو، تر هغې به په دغه ولایت کې عملیات نه کېږي، چې پخپله کندهاریان پرې نه دي سلا شوي.
امریکایي ځواکونو بیا په وار وار ویلي، چې د ولسمشر کرزي ورور او د کندهار د ولایتي شورا مشر احمد ولي کرزی دغلته د عملیاتو لپاره خنډونه جوړوي.
خو بیاغلی پیټریس وایي، هر ځومره چې نن - سبا کندهار د نړیوالو لپاره دارزښتمن دی، په هماغې کچې د مخالفانو لپاره هم ارزښت لري.
هغه زیاته کړه د سولې او ټیکاو د راوستلو لپاره به کندهار ته نور ځواکونه واستوي: ((کندهار هغه ولایت دی چې هم یې د نړیوالو او هم یې ژمور د دوښمنانو ډېر پام ځانته ور اړولی دی.

مور دغلته د پراخو او بریالیو عملیاتو د تر سره کولو لپاره ژمن یو. زمور دغه عملیات به له نورو تېرو عملیاتو سره خورا توپیر ولري، مور به دغلته له قومي مشرانو سره په سلا مشورو هغه ځایونه په نښه کوو، چې زمور د دوښمنانو پټنځایونه دي.
البته باید ووایم زمور دغه عملیات چې په څو پراوونو کې به تر سره شي، لومړی پرا و یې چې د معلوماتو راغونډول دي، لا له وړاندې پیل شوي دي. مور به کندهار ته نور ځواکونه هم واستوو، چې له افغان پولیسو او پوځ په ګډه کار وکړي.))
داسې ویل کېږي چې په کندهار کې ۳مخ

جوخه‌های مرگ برای درهم شکستن روحیهٔ مردم

نیروهای ناتو به رهبری امریکا دیروز باردیگر با هدف قرار دادن افراد ملکی، سه تن از شهروندان افغان را به کام مرگ فرستاد. این در حالی است که طی هفتهٔ گذشته این چندمین بار است که نیروهای ناتو مرتکب به اصطلاح چنین اشتباهات می شود. شام جمعه نیروهای ناتو با محاصره کردن خانهٔ یک نمایندهٔ ولسی جرگه در ولایت ننگرهار، یکی از خویشاوندان وی را کشتند؛ قبل از این، در ولایت های خوست و قندهار سربازان امریکایی با تیراندازی بر یک موتر شخصی و بس ده ها افغان را کشته و زخمی ساختند. باید گفت، بدون شک نیروهای عملیات ویژهٔ امریکا و ناتو در افغانستان مسوول آمار روزافزون قتل و کشتار غیرنظامیانی هستند که صرفا درج نام شان در فهرست تعیین شده از سوی واشنگتن، آنها را در معرض کشتار بدون محاکمه قرار می‌دهد. ص۳

د خصوصي امنیتي کمپنیو ساتونکي پر بېګناه وګړو ډزې کوي

په کندهار کې ځینې خصوصي امنیتي کمپنۍ، چې د ناټو د اکمالاتو امن ټینګوي، د وسلوالو د حملو له وېرې، پر بېګناه کلیوالو ډزې کوي. په کندهار کې په دغسې پېښو کې ګڼ کسان وژل شوي یا هم ژوبل دي.
امریکایي چارواکي وایي، دغه کار له بهر نیو ځواکونو د خلکو ملاتړ کموي او په دې منځ کې ایجاد شوې فاصله لا پسې زیاتېږي.
په کندهار کې د خصوصي امنیتي کمپنیو ساتونکي، چې د ناټو ځواکونو د اکمالاتو امن ساتي، کله چې له کلیو تېرېږي په پرله پسې ډول پر خلکو ډزې کوي، دا کار د ملکي ۳مخ

دبوید کامیرون رهبر حزب محافظه کار بریتانیا:

در صورت پیروزی در انتخابات، نیروها را از افغانستان خارج خواهد کرد

این بیرون کشیدن نیروها از افغانستان، مشروط به موفقیت ماموریت ناتو در آن کشور می باشد

اراده - لندن، در حالی که به برگزاری انتخابات بریتانیا زمان کمی مانده است و کمپاین های انتخاباتی در این کشور جریان دارد، یکی از نامزدان صدارت گفت، در صورت پیروزی نیروهای بریتانیایی را از افغانستان خارج خواهد کرد.

دبوید کامیرون رهبر حزب محافظه کار بریتانیا گفته است، درصورتی که او نخست وزیر کشورش شود، در دوران صدارتش به بیرون کشیدن نیروهای بریتانیایی از افغانستان شروع می کند. جنگ افغانستان امروز یکی از سوژه های داغ کمپاین انتخاباتی برای احراز پست نخست وزیری در این کشور به شمار می رود. مردم بریتانیا خواهان بازگشت سربازان بریتانیایی از افغانستان اند. بر پایهٔ آمارهای اخیر ۷۳ درصد از بریتانیایی ها خواهان خروج نیروهای بریتانیایی از افغانستان شده اند. ص۳



د عراق فاتحان! په کندهار کې په غلاګرځي

۲

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

نیروهای نظامی افغان قادر به تامین امنیت هستند؟

کنفرانس وزرای خارجهٔ پیمان ناتو که چندی پیش در تالین پایتخت استونیا برگزار و در آن وزیر خارجهٔ افغانستان نیز شرکت داشت، تصمیم گرفتند که در ۲۰۱۱ امنیت افغانستان در بست به این نیروها تحویل داده شود. اینکه چنین تصمیمی با وضعیت کنونی چقدر سازگاری دارد، مکثی بر آن نموده این تصمیم را به ارزیابی می گیریم. گرچه قرار است که تا اواخر امسال تعداد نیروهای پولیس در افغانستان به ۱۳۴ هزار نفر و تعداد نیروهای اردوی ملی به ۱۷۴ هزار نفر برسد، اما بسیاری به علل گوناگونی فکر می کنند که این تحویلی به این زودی ممکن نخواهد بود؛ زیرا برای رسیدن به چنان تصمیمی، راه نسبتا درازی در پیش خواهد بود.

اینکه با تمام قدرتمندی یی که مخالفان از آن برخوردار می باشند و تعداد آنان در دو طرف سرحد به هزاران تن می رسد و اینکه آیا این تعداد نیروی اردو و پولیس قادر به تامین امنیت سر تاسر افغانستان خواهند شد، برای بسیاری سوال برانگیز است. نیروهای نظامی افغانستان با معاش بسیار پایین به سربازی می پردازند و لوژستیک آنان از نظر مواد غذایی بسیار ضعیف می باشد. این نیروها از امکانات تسلیحاتی بسیار ضعیفی برخوردار می باشند و از کوچکترین پوشش هوایی و جنگنده یی جت برخوردار نیستند و در جنگ های کنونی بدون چنین پوششی نمی توان در مقابله با مخالفان رو به رو شد؛ بگذریم از اینکه این نیروها از نظر سلاح های سبک نیز، دچار مشکل بوده و در جنگ ها از مهمات بسیار اندکی برخوردار می باشند و با چنین آتش ضعیف ممکن نیست، با دشمنی که مهمات بسیاری در اختیار دارد، مقابله کند و آنها را شکست دهند. بیشتر کسانی که به صفوف نظامیان مخصوصا پولیس می پیوندند، عامل آن بیکاری و بی روزگاری است و تا حال برای اکثر اینان انگیزه های جنگیدن در برابر مخالفان غیر از این چیز دیگری نیست و به این خاطر، فرار در صفوف آن بسیار بوده و استعمال مواد مخدر هم به طور گسترده در میان صفوف پولیس شایع می باشد و به این خاطر، در این اواخر وزارت داخله شرایط خاصی برای شمولیت در صفوف را مطرح ساخته است. در صورتی که امکانات نیروهای خارجی را با اردوی و پولیس افغانستان مقایسه کنیم، کاملا اشتباه خواهد بود و اما اردوی یی که بعد از ۲۰۱۱ مسوولیت امنیت در افغانستان جنگزده را می گیرد، حداقل باید به اندازهٔ نیمی از ارتش هایی که اکنون در جنگ مقابل طالبان قرار دارند، مسلح بوده و از این امکانات برخوردار باشند.

به این ترتیب، دیده می شود که گرفتن امنیت کشور بدون حمایت مستقیم نیروهای خارجی در شرایط کنونی ناممکن می باشد. مخصوصا که نیروهای پولیس و اردوی ملی تا حدی زیادی کم پرورش یافته اند و ممکن نیست که با چنین پرورشی در برابر جنگجویان کار آزموده و جنگ دیدهٔ طالبان و القاعده برابر ی کرده بتوانند. مقابله با این جنگجویان برای ارتشی که باران دیده باشد و جنگ های بسیاری را پشت سر گذشتانده باشند، ممکن است و اینکه در یکسال گذشته چقدر ممکن است که تمام کمبودی های اردو و پولیس بر طرف گردد، نمی توان به حدی که دفاع مستقل از نیروهای خارجی را انجام دهند را پیشبینی کرد. اینکه در این جلسه چه خوشبینی های در این مورد نزد این وزرای خارجه وجود داشته و طرح شان را به کدام دلایل پخته و استوار کرده اند تا حال روشن نیست. توجه به بهبود وضعیت اردو و پولیس بازهم مربوط به خارجی هاست که اگر آنچه در گذشته صورت گرفته، همچنان امتداد یابد، فکر نمی شود که تغییرات جدی در آن رونما گردد و سکان چنین امنیتی را به دست گیرند. مداخلهٔ ایران و پاکستان در امور داخلی افغانستان و مسلح شدن نیروهای مخالف دولت افغانستان توسط این همسایه گان که هر یک مرزهای طولانی با افغانستان دارند، بازهم دفاع مستقل را منتفی کرده و باید نیروهای خارجی در مقابله با وضعیت کنونی تا مدت ها و سال ها به مقابلهٔ مستقیم با طالبان و القاعده ادامه دهند. این چیزی است که هرکسی از نیروهای اردو و پولیس افغانستان و وسعت و کثرت نیروهای مخالف آگاهی داشته باشد، می داند که این دفاع به این آسانی و در سال آینده صورت گرفته نمی تواند که اگر می توانست، چه ضرورتی بود که بازهم امریکاییان سی هزار نیروی دیگر را وارد افغانستان می کردند.

د عراق فاتحان! په کندهار کې په غلاګرځي

زخمی افغان



په افغانستان کې له امریکایي سفیر ایکن بیري نه پرته، چې د سپینې مانۍ یوملکي استازی بلل کېږي، جنرال پټریوس، جنرال ستیلي مک کرسټل اوجنرال کارټر دریو واړه د افغانستان په شخړه کې د امریکا د لومړی لیکې پوځي مشران او په جګړه بوخت جنرالان بلل کېږي. لومړی یو یي له عراق او افغانستان نه سوا په ټوله سوېلي اسیا کې د امریکایي پوځیانو د قوماندې د مرکز مشر دی. جنرال مک کرسټل په افغانستان کې د ټولو میشتو بهرنیو سرتېرو مشر دی او وروستی یو یي جنرال کارټر بیا د افغانستان په جنوب کې د امریکایي سرتېرو مشري پر غاړه لري. دغه دریو واړه پوځیان جمع ملکي ایکن بیري د امریکایي حکومت هغه مهم معتمد علیه او په کارپوه کسان بلل کېږي، چې همدا اوس یې دې حکومت ته د وړپښې ترټولو مهم جنجال (د افغانستان موضوع) د حل کولو امید پورې غوټه کړی دی، په دوی کې د ملکي ایکن بیري په اړه کوم داسې کره معلومات نه شته، چې په عراق کې دې کومه دنده ترسره کړې وي، مګر یاد پوځي جنرالان خو دریو واړه هلته په درنو دندوپاته شوي دي. جنرال پټریوس د عراق د جګړې په مهارولو کې پوره ونډه درلوده. دغه راز مک کرسټل او کارټر هم ورسره ځوکاله په دې بوخته کې مصروف وو. کله چې له عراق سره سره د افغانستان شخړه هم د پنټاګون لپاره پر یوه واقعي سرخوړي واوښته، نو یې هڅه وکړه، چې په تدریج سره له عراق څخه خپل قوه کار هم د افغانستان جګړې ته انتقال کړي په دې لړکې تېر کال جنرال مک کرسټل او کاري ګروپ یې افغانستان ته راولېږل شول. کال وړاندې همداشې وړځې وې، چې امریکایي مشرتابه د افغانستان د جګړې په پوځي مشرتابه کې پراخ بدلون راووست. دغه راز یې ملکي سفیر هم بدل کړ، په دې لړکي یوه د پام وړموضوع له عراقه د رالېږدېدونکي پوځي مشرتابه په تېره د جنرال مک کرسټل په اړه هغه وړاندوینې قضاوتونه او خوشباوری وې، چې کال وړاندې دامهال یې غربي رسنۍ په سراخیستې وې. د جنرال پټریوس په شمول امریکایي مشرتابه دغه راز رسنیو او نورو تبلیغاتي ډنډورچیانو ټولو په یوه خوله همداویل چې له عراقه راغلی نوی جنرال به د افغانستان د جګړې ناسم وضعیت په ډراماتیک ډول تعویض کړي او راتلونکی ۲۰۱۰ کال داوخت به د دوی په وینا د جګړې وضعیت او د حالاتو تګلوری دومره خطرناک نه وي، لکه اوس یې چې امریکایي ځواکونه وارخطا کړي دي. دغو بناغلومبصرینو به په خلکو د خپلو خبرو د منلو لپاره دیادو جنرالانو کیسې او کارنامې هم په خورا جدیت سره بیانولې او هغوی به یې د چریکي مقاومتونو د ماتولو فنکاران بلل. مګر کال خو دا دی تېر شو او د مک کرسټل تلین پوره شو، بلاخره څه شوي دي راځئ د عراق د دغه افسانوي فاتح (مک کرسټل) کارګزاري د ننني وقایعو له عینکو وګورو، چې وضعیت یې کوم پړاو ته رسولی.

د افغانستان د ۳۴ ولایاتو له جملې له یوه (کندهار) څخه د جمعې ورځې یوخبروایي، چې د پنټاګون همدغه درې جنرالان چې سفیر ایکن بیري هم ورسره و، د شپې په تپه ترورمې کې دکندهار پر هوایي ډګر کوز شوي دي، بیا یې نو د سهار له خړې په استفاده په پټه دکندهار ولایت څخه د لیدنې دوره پیل کړې، دکندهار پر هوایي ډاګر سر ببره دچهل زینو سیمې ته ورغلي، د بنار په اطراف کې په ځینو نوروهډو راګرځېدلي، اخوا پنجوایي ته تللي اوپه یوه ساه یې ماسپښین قضا ببرته کندهارښار ته ځان رارسولی دی. دغه مهال یې نو دکندهار د والي په شمول خبریالان او نور هغه څوک چې بایدورسره لیدلی یې وای، ټول ورغوښتي اوپه سخته ببره یې لس دقیقې له والي سره خبرې کړي، شل دقیقې یې خبریالانوته ورکړي، چې پوښتنې وکړي او له دې سره په تراټ ببرته په نامعلوم لوري الوتنیا شوي دي.

دکندهار بنار میشتي خبریالان وایي، پخوا به چې د جنرال پټریوس جنرال مک کرسټل یا سفیر په کچه کوم امریکایي مقام چېرته سفرکاوه، نوکه سفر به هرځونااعلان شوی و، مګر دوی به ورته بیدارشوی وو او

۳مخ

جرګهٔ صلح چرا به تعویق رفت، و چرا حقایق به مردم گفته نشد؟!

مولوی افراسیابی

تردیدی نیست که پس از موضعگیری صریح امریکا و ناتو برای رد پیشنهادهای صلح آمیز مخالفان، اتموسفیر برگزاری جرگهٔ صلح بسیار نامساعد شده است؛ در اصل هم مردم به برگزاری جرگه ها و گردهمایی ها در مقطع کنونی اعتماد شان را از دست داده اند؛ چرا که یک سال قبل از این دیدند که جرگهٔ محلی و قبایلی با هزینهٔ بلندی که از خزینهٔ ملت فقیر به مصرف رسید، هیچ دستاوردی در قبال نداشت.

اما فراموش نکنیم که بیانیه های اخیر رییس جمهور کرزی در خرده گیری از شیوهٔ کاری خارجی ها و جامعهٔ جهانی، این انتظار را زیاد کرد که شاید جرگهٔ صلح فعلی که با شرکت ۱۵۰۰ نفر تدارک دیده شده است، بتواند برای شکستن بن بست حاضر روزنه یی ایجاد کند. این جرگه با آماده گی هایی که برای آن از قبل گرفته شده بود، قرار بود که ۱۸ ثور سال روان برگزار شود، اما به یکباره گی و به طور مرموزی اعلام شد که تاریخ برگزاری این جرگه به آینده موکول شده است.



اگر چه مقام های رسمی و ارگان های ذیربط تا هنوز لب باز نکرده اند و حقایق را به مردم بازگو ننموده اند، ولی خوب همه مردم دیگر می فهمند که این تعطیل بی دخالت خارجی ها نیست. محافل بیرونی که شامهٔ بسیار قوی از حال و احوال جامعه دارند؛ شاید احساس کرده اند که نکند این جرگه محل مناسبی برای طرح و توضیح و بالاخره تصمیم گیری روی خرده گیری هایی شود که رییس جمهور در قبال نحوهٔ کاری یاران جامعهٔ جهانی شان ابراز داشته بود.

مقام های امریکا و ناتو بر این تاکید دارند که فرصت دیالوگ و نشستن با مخالفان هنوز فرانرسیده است. اگر این حرف واقعی زمینه و ضرورتی داشته باشد

ص۳

جرگهٔ صلح چرا به تعویق رفت...

واضح است که جرگه یی که با این پهنا برگزار می شد، به آن حتمی توجه می کرد و آن را نظر انداز نمی شناخت. اما جامعهٔ جهانی از گردهمایی که یک کمی هم آب و تاب و انگیزهٔ مردمی داشته باشد، در هراس است، چرا که آنها اعتراض مردم و ملت های خود شان را در خیابان های نیویارک، واشنگتن، لندن، برلین و روم..... تجربه کرده اند و دیده اند که مردم با یک صدا طرفدار تماس و دیالوگ اند، طرفدار صلح و سازش و آشتی می باشند.

با توجه به آنکه در و دیوار و آسمان و زمین شعار پایان جنگ را انعکاس می دهد، با توجه به آنکه مصارف و مصروفیت های نظامی سخت، بحران افغانستان و بحران بین المللی را به بن بست کشانده، انتظار می رود که شعار صلح سرانجام پیروز شود. خوب است خارجی ها پیش از آنکه دیگر پل های عقب غیر قابل عبور شود و زمینهٔ تفاهم از میان برود، به ارادهٔ مردم افغانستان و جهان احترام بگذارند، خوب است، حکومت و مردم افغانستان را در راه رسیدن به یک تفاهم و آشتی سراسری مساعدت نمایند.

در صورت پیروزی در انتخابات...

به گزارش شبکهٔ دویچه وله، کامیرون افزوده است که این بیرون کشیدن نیروها از افغانستان، مشروط به موفقیت ماموریت ناتو در آن کشور می باشد. وی خاطر نشان کرده است که خروج سربازان از افغانستان، یک خروج «مصنوعی» نیست.

کندهار هم مور او هم طالبانو ته ...

د پلان شویو عملیاتو پوځي پړاو به په را روان جون کې پیل شي، خو د جنرال پیټریس په ویناځو نور پړاوونو به هم ولري.

له ښاغلي پیټریس سره په دغه سفر کې په افغانستان کې د ناټو ځواکونو قوماندان جنرا ل سټنیلي مکریسټل او په کابل کې د امریکا سفیر کارل ایکنبیري هم مله وو.

د کندهار والي توریالی ویسا وایي، چې د دغه پلاوي سفر ښیي چې دکندهار له بیارغونې سره د نړیوالو مینه زیاته شوې او هڅه کوي چې دغلته خلکو ته د کارموندنې له لارې یو شمېر مخالفان د سولې بهیر ته ورمات کړي: ((د دوی راتګ کندهار ته واقعا ډېر ګټور دی او هغه پاملرنه ښیي چې ولسمشر کرزی او نړیوال یې کندهار ته کوي .))

په کندهار کې پیلیدونکي عملیات د نادعلي او مارجې ولسوالیو د عملیاتو لړۍ ده، چې څه باندې درې میاشتې مخکې تر سره شول .

په هغو عملیاتو کې شاوخوا پنځه لس زره افغان او بهر نیو ځواکونو برخه لرله، چې د افغان چارواکو په خبره په تېرو اتو کلونو کې تر ټولو بریالي هغه وو.

هغه مهال هم جنرال پټریس ویلي وو، چې د مارجې جګړه یوه ډېره اوږده جګړه ده او دا د نړیوالو لومړنۍ غښی دی چې پر طالبانو ویشتل کېږي.

جوانی که از بیکاری رنج ...

هرات حلق آویز نمود.

وی افزود که پولیس جسد سلیم را جهت معاینات به شفاخانه انتقال داده است.

احمدی در مورد علت حلق آویز کردن این جوان چیزی نگفت؛ اما عبدالغفار یکتن از همسایه گان وی گفت که محمد سلیم مزدور کار بود و اکثرا برایش کار پیدا نمی شد و به همین علت خود را حلق آویز نموده است.

وی علاوه کرد که سلیم همواره از بیکاری و مشکلات اقتصادی رنج می برد.

به گفتهٔ نامبرده، سلیم ازدواج نموده بود و از وی دو طفل باقی مانده است.

شش ماه قبل یک جوان دیگر نیز، در شهر هرات خود را با ریسمان حلق آویز نمود، اما علت آن مشخص نبود.

به گزارش خبرگزاری روز، این درحالی است که دیروز مصادف با روز جهانی کارگر بود و از این روز در کابل از سوی اتحادیهٔ ملی کارگران طی محفلی تجلیل به عمل آمد و اتحادیه اعلان کرد که عدم رسیده گی دولت به مشکل بیکاری، باعث می شود که هزاران جوان برای کار به خارج از کشور بروند.

د خصوصي امنیتي کمپنیو ساتونکي...

افغانانو ملاتړ خپلولو په برخه کې د ایتلافي ځواکونو هڅې کمزورې کوي.

چارواکي وایي، دغه امنیتي کمپني پر کلیوالو په دې نیت ډزې کوي، چې سخت دریځي وسلوال ووهروي. له دې کبله کله کله ملکیانو ته مرګ ژوبله اوړي. دا هغه څه دي چې د امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان یې د خلکو د ملاتړ جلبولو لپاره مخنیوی غواړي.

د افغانستان په لویو ښارونو کې پر لویو لارو د ګزمې یوه امریکایي قوماندان تورن مات کوهګل اسوشیټډ پرېس خبري اژانس ته وویل "کله چې دوی له ګټه ګوټې ډکو سیمو څخه تېر ېږي، لومړی پر ماشې ګوته کښېکاږي، وروسته پوښتنې کوي".

په کندهار کې بهرني ځواکونه وایي، دوی خپلو عالي رتبه چارواکو ته په دې اړه شکایت کړی او حتا د دغو کمپنیو ځینې ساتونکي یې نیولي، یا یې هم دا معلومات ورکړي، چې څنګه د دغو اکمالاتي کتارونو امن تینګ کړي، خو ستونزه ختمه نه ده.

اسوشیټډ پرېس زیاتوي، اکثره دغه کمپنۍ د هغو کسانو دي، چې د کندهار له زورواکو سره ترلي دي.

پنځه ویشت کلن شېرمحمد چې ورور یې سلیمان د مارچ په نیمایي کې د ناټو ځواکونو د اکمالاتو د امنیتي کمپنۍ په ډزو وژل شوی، وویل "حکومت زمور په غم کې نه دی".

شېرمحمد زیاته کړه، چې دوه نور خپلوان یې هم په ورته پېښو کې له تېرو اتو میاشتو راهیسې ټپیان شوي، چې یو یې ۱۲ کلن ماشوم و.

د شېرمحمد په ګډون ګڼ کسان د کندهار په میوند ولسوالۍ کې راغونډ شوي وو، چې ولسوال عبیدالله باوري ته خپل شکایت ووایي. ولسوال په دې اړه وویل "دا یوه لویه ستونزه ده، یوازې په میوند ولسوالۍ پورې نه ده ترلې، په ټول کندهار کې دا ستونزه شته، اکثره خلک له کوم دلیل پرته پر دغو ډزو وژل کېږي"

په دې توګه امریکایي او نور چارواکي نه شي کولای ملکي افغانان قانع کړي، چې تر طالبانو یې دوی ډېره ساتنه کوي.

د کندهار یوه اوسېدونکي سید احمد خوشال ازادي راډیو ته وویل، همدغو ډزو یا ټکانونو د دې ولایت خلک ډېر وېرولي دي.

یوه پوځي چارواکي ډګرمن ډېوه ابراهامس وویل "دا د امنیتي شرکتونو غیرمسوولانه کار دی" دا د ملکي افغانانو د ملاتړ ترلاسه کولو په برخه کې ناټو ته کار نور هم سختوي.

ابراهامس خپلو مسوولانو ته په دې اړه یو ایمیل هم ولیکه، چې په کې راغلي "دوی وسلوال دي، یونیفورم یې اغوستی، د امریکا د اکمالاتي کتارونو امن ساتي، خو له یوې مخې پر کلیوالو ډزې کوي".

په کندهار کې د یوه امنیتي شرکت ساتونکي جلاد خان دا تورونه رد کړل، ویې ویل "ناټو ځواکونه پر موږ باور لري" نومورې وویل داسې ډېرې کمې پېښې کېږي، چې د دې کمپنۍ ساتونکي دې له کوم دلیل پرته پر کلیوالو ډزې وکړي.

نومورې ویلي، په هغه صورت کې دوی ډزې کوي، چې ځوک وربانديې برید وکړي. ده زیاته کړه ناټو ځواکونه یې استخداموي او روزي یې.

په واشنګټن کې د جګړې د مطالعې انستیتوت د یوه نوي راپور له مخې، په کندهار کې ځینې پخواني قوماندانان په دغو کمنیو کې خپل کسان لري، چې له دغو کمپنیو هم عواید ترلاسه کوي.

د عراق فاتحان! په کندهار کې ...

پر وضعیت به خبر وو، مګر داخل نه یوازې داچې کندهار ته د جنرال پټریوس په سفر دوی نه وو خبر، افغانستان ته په راداخلېدو یې هم نه وو خبرشوي. بله داچې دایوازې خبریالان نه وو، چې داسفرترې پټ ساتل شوی، د کندهار والي خبریالانو ته ویلي، چې دی هم دامریکایي جنرالانو له دې دورې څخه پر درېیو بجې هغه مهال خبرشو، چې دده په وینا (مېلمانه) له پنجوایي څخه راغبرګ شول، سره له دې چې د دې لنډ تنګ خبري کانفرانس پر مهال پټریوس او مک کرسټل د کندهار د عملیاتو په اړه د ډاډ غوړې ویشتي، خو دکانفرانس د برخوالو په وینا دکندهار د کور نیو دولتیانو غوندې داوار په امریکایي جنرالانو هم دکندهار هوا ښه نه وه لګیدلې اوخوار، ورځطا اوتلولې ښکار ېدل او له خبري کانفراسه په داسې حال کې په تراټ ووتل چې ځینو خبریالانو لاپوښتنې پیل کړې هم نه وې. د زیاترو کتونکو په وینا د امریکایي مشرو جنرالانو له خوا دا ډول بیابیا کتنې ښایي په دې موخه کېږي، چې خپلو په جګړو بوختو پوځیانو ته روحیه اومورال ورکړي، مګر داخل چې چا دعراق دغه فاتحان؟! دکندهار تراسمان لاندې په وارخطا حالت کې لیدلې په اسانه دااتکلولای شي، چې د پوځیانو به یې هم زړونو د راولاړولو په ځای ترتلو ورایستلې وي.

له تاند وېبپاڼې نه په منته

ایران له افغان بندیانو اوس د بدن...

تر اوږدو بحثونو وروسته، د جرګې مشر محمد یونس قانون وویل، چې راتلونکې غونډې ته به د هېواد د بهر نیو چارو وزیر او په تهران کې افغان سفیر راوغوښتل شي.

په ایران کې د افغان بندیانو د اعدام موضوع د تېرې میاشتې په وروستیو کې د یوه هراتي وکیل له خوا په ولسي جرګه کې راپورته شوه.

هغه وویل، چې په دوو شپو کې ۴۵ افغانان په ایران کې اعدام شوي او جسدونه یې هرات ته راوړل شوي دي، خو وروسته د ولسمشر حامد کرزي د ملي امنیت سلاکار، د اعدام شویو افغانانو شمېره شپږ تنه وښودله.

همدارنګه دوې اونۍ وړاندې یوې باوري حکومتي سرچینې خبر ورکړ، چې د ایران په قزوین ښار کې درېیو افغانانو ته اور اچول شوی او وژل شوي دي، خو له دې خبرونو سره سره بیا هم په دې اړه کومه مهمه پرېکړه ونه شوه.

د جرګې په پرونۍ غونډه کې، د بهر نیو پوځیانو له خوا د خپلسریو وژنو په اړه هم تودې خبرې وشوې.

په دغه جرګه کې د ننګرهار استازي عبدالمجید خان وویل، چې په افغانستان کې د بهر نیو ځواکونو د قانونمند کېدو لپاره باید ملي شورا یوه مسوده تصویب کړي.

هغه زیاته کړه چې بهر ني ځواکونه د دې لپاره، چې په افغانستان کې تر ډېرې مودې پورې پاتې شي، یو شمېر سیمې په زوره ناامنه کوي.

هغه وایي، تراوسه چې بهر نیانو په افغانستان کې ځومره کسان د ترهګرو په نامه وژلي، له نیمایي نه ډېره برخه یې بېګناه عام افغانان وو.

د پکتیکا استازي خالد فاروقي هم د نومورې خبرې تایید کړې او ویې ویل، چې که ولسي جرګه وکولای شي، چې په افغانستان کې د بهر نیو د شتون لپاره یو قانوني چوکاټ رامنځته کړي، نو دا به په تېرو پنځو کلونو کې د ولسي جرګې تر ټولو ستره لاسته راوړنه وي.

په دې برخه کې هم د ولسي جرګې وروستۍ پرېکړه دا شوه، چې د روانې دوشنبې پر ورځ دې امنیتي مسوولان د ولسي جرګې عمومي غونډې ته راوغوښتل شي، ترڅو په ګډه د دې ستونزې د حل لپاره یوه معقوله لار وسنجول شي.

په هېواد کې ۷۵ سلنه کارګران بېکاره ...

پاملرنه وکړي.

هغه وویل، چې اوسمهال په افغانستان کې کارګران په سختو شرایطو کې ژوند کوي او نه یواځې ورته د کار زمینه نه ده برابره، بلکې په جګړو کې د دواړو لوریو له خوا ځپل کېږي.

نومورې له دولت ځخه وغوښتل، چې د کارګرانو نړیواله ورځ دې د ملي رخصتۍ په توګه اعلان کړي.

د کورنیو چارو وزارت د خیاطۍ د برخې کارکوونکې معصومې په یادو شویو مراسمو کې پژواک خبري اژانس ته وویل، چې له خپل کار او چارواکو له چلند ځخه راضي ده، خو زیاته یې کړه: ((هغه څه چې زما په ګډون ټول کارګران ورسره لاس اوګرېوان دي، هغه د معاشونو کموالی دی.))

دې، د خپلې میاشتنۍ تنخوا د کچې په اړه څه ونه ویل، خو په دولتي ادارو کې کارګرانو ته شاوخوا درې زره افغانۍ تنخوا ورکول کېږي.

خو د کابل په تایمنیو کې د کار د موندلو په تمه ولاړ د میدان وردګو د بهسودو ولسوالۍ اوسېدونکی محمد عباس وایي، چې دی د کارګر د ورځې په اړه هېڅ معلومات نه لري او نه پوهېږي، چې د اورځ د څه لپاره ده؟

نومورې، وروسته له هغه چې د یادې شوې ورځې په اړه معلومات ورکړل شول، وویل چې د غونډو په جوړولو څه نه کېږي، دولت دې د کارګرانو حقونو ته پاملرنه وکړي او د کار زمینه دې ورته برابره کړي.

محمدعباس وایي، چې په لسو ورځو کې درې ورځې، هره ورځ د شاوخوا ۲۵۰ افغانیو په بدل کې مزدوري ورته پیدا کېږي او نور بېکاره وي.

جوخه‌های مرگ برای درهم شکستن روحیهٔ ...

براساس گزارش یک خبرگزاری غربی، مرگ و میر شهروندان غیرنظامی افغان و قتل‌های قومی یکی از استراتیژی های نظامی امریکا در حمله به افغانستان است.

افشاگری روزنامه نیویارک تایمز در شمارهٔ ۲۵اپریل دربارهٔ تهاجم پنهانی نیروهای عملیات ویژهٔ امریکا به نیروهای فرضی طالبان در قندهار نشان می دهد که هرچند دولت بارک اوباما در ظاهر از پیگیری استراتیژی جنگ علیه تروریزم صرفنظر کرده است، اما به نظر می‌رسد، عقاید دیک چینی معاون رییس جمهور سابق امریکا مبنی بر ضرورت استمرار جنگ پنهانی علیه تروریزم، هنوز محرکهٔ سیاسی پشت صحنه چنین عملیاتی است.

نیروهای امریکایی در تلاش اند، با حملات پنهانی نیروهای عملیات ویژه به حومهٔ قندهار ساکنان این شهر را که مخالف حملهٔ نیروهای سازمان پیمان آتلانتیک شمالی (ناتو) و امریکا به شهر شان هستند، به زانو درآورند. اما، واقعیت آن است که قانونگذاران واشنگتن و طراحان برنامه‌های وزارت دفاع امریکا (پنتاگون) مروج ارعاب و مرگ در افغانستان هستند. براساس این گزارش، انجام چنین عملیاتی تحت فرماندهی جنرال مک کریستال در افغانستان چندان مایهٔ تعجب نیست، چرا که استفاده از جوخه‌های مرگ و پاکسازی قومی یکی از بخش‌های استراتیژی وی در حمله به عراق هم بوده است.

به گزارش سایت اطلاع رسانی اینفارمیشن کلیرینگ هاوس، نوشت فهرست تهیه شده از سوی امریکا به نیروهای ویژه این کشور در افغانستان اجازه می‌دهد، تا هر کسی را که اسمش در این فهرست درج شده باشد، بدون محاکمه اعدام کنند.

چگونه نظارت از مصرف پول های بازسازی در افغانستان؟

یکی از عمده ترین دلایل رونق گرفتن صنایع ساختمانی در افغانستان، ایجاد پایگاه ها و سربازخانه ها می باشد؛ از مجموع بودجهٔ بازسازی افغانستان، ۷۰٪ آن برای تقویت نیروهای امنیتی افغانستان اختصاص می یابد که قابلیت وتوانایی این نیروها، شرط کلیدی برای بیرون کشیدن نیروهای امریکایی از افغانستان سر از ماه جولای سال ۲۰۱۱ می باشد.

مقام های بررسی حسابات ایالات متحدهٔ امریکا گفته اند که حکومت اوباما برای جلوگیری از حیف ومیل و تقلبات، نیاز به آن دارد، تا در قسمت ۲۰ میلیارد دالر اضافی یی که کانگرس جهت تسریع تلاش های بازسازی به افغانستان اختصاص می دهد، کنترول بیشتری به عمل آورد.

بودجه یی که تقاضا شده است، متمم بودجه برای سال مالی ۲۰۱۱ و ۲۰۱۰ بوده، علاوه ۵/۵۱ میلیارد دالری می باشد که کانگرس قبلاً از سال ۲۰۰۲ بدینسو بدین منظور اختصاص داده است و ۳۸٪ بیشتر می باشد.

ده ها میلیارد دالری که جهت بازسازی عراق در زمان جورج دبلیوبوش اختصاص داده شده بود، خاطر نشان کرده است.

جان برومیت، کفیل معاون بازرس کل امور بازسازی افغانستان به خبرنگار رویترز گفته است:

"دواير ايالات متحدهٔ امريکا نياز به دقت بيشترِ جهت نظارت دارند و آنها ضرورت دارند، جهت افزايش دادن ظرفيت های موسسات افغانی، دقت بيشتر مبذول دارند".

ادارهٔ اوباما به منظور تقویت ظرفیت خود در افغانستان، در نظردارد، این پول جدید را به طور مستقیم از طریق حکومت افغانستان که مکرراً متهم به فساد اداری و سوء اداره در خصوص مصرف پول های کشورهای کمک دهنده شده است، کارسازی کند.

در گزارشی که به روزجمعه از جانب بازرس کل حسابات به کانگرس ارایه شده است، گفته می شود که موسسات افغانستان هم فاقد استقلال اند وهم کارمندان مجرب برای این وظیفه ندارند.

ارنولد فیلد، بازرس کل گفته است:

"بدون یک نظارت مناسب و جدی، کمک های ما برای بازسازی افغانستان به سهولت در معرض حیف و میل، تقلبات و سوء استفاده قرار می گیرد".

در این اواخر، مقام های حسابداری ایالات متحدهٔ امریکا مشکلات مشابهی را در قسمت هدف آن است که شمار نیروهای امنیتی افغانستان، تا سال ۲۰۱۱ به ۳۰۰ هزار تن برسد. اما بازرس کل حسابات ایالات متحدهٔ امریکا شاکی است که یک ماستر پلان یا طرح جامع جهت ایجاد تسهیلات برای تهیهٔ جا و مکان برای این نیروی نظامی بزرگ وجود ندارد.

بازرس کل در گزارشی انتقاد می کند که قشله ها یا سربازخانه هایی که در حال حاضر با پول مالیه دهنده گان امریکایی در افغانستان ساخته شده اند، دارای مشکلات « چشمگیر» بوده و ساختمان های آن، فاقد کیفیت قابل اعتماد می باشد.

در یک قشلهٔ نظامی یی که در ولایت کندز افغانستان توسط شرکت امریکایی « داین کورپس» ساخته شده است، مورد بازرسی قرار گرفته است، دیده شده است که نقص های جدی یی وجود دارد و به دلیل ساختمان گلین آن، شکست و ریخت هایی به وجود آمده است.

علاوه براین، زمان ساختمان این قشله در دور اول ۲۰ ماه بعد تر از قرارداد تمام شده است و مرحلهٔ دوم آن بیشتر به تاخیرافتاده است.

در این گزارش گفته می شود که ۱۹ مورد جرمی در قسمت مصرف پول های مالیه دهنده گان امریکایی ثبت شده است و از جمله ۲ میلیون دالر امریکایی، از عاملان این جرایم بازستانده شده است. ۴۲ مورد دیگر زیرتحقیق قراردارد. در یک مورد دیگر، یک کارمند نیروی دریایی که در یک دفتر قراردادی در کابل کارمی کرده است، اعتراف کرده است که جهت اعمال نفوذ برای انعقاد قرارداد تهیهٔ مواد سوخت و امور ساختمانی ده هزار دالر رشوت گرفته است. گزارش بدون آنکه در این مورد تفصیلی بدهد گفته است که نیروهای دریایی امریکا در مورد این فرد، اقدامات انضباطی را به اجراء درآورده است.

په هېواد کې ۷۵ سلنه کارګران بېکاره دي

د افغانستان د کارګرانو ټولنه وايي، چې دا مهال په هېواد کې ۷۵ سلنه کارګران وزګار دي او په تېرو اتو کلونو کې ۱۰۰۰ افغان کارګران وژل شوي دي.

د کارګرو د شورا او ملي ټولنې مشر محمد ظاهر د غوايي پر ۱۱مه، په کابل کې د کارګرانو د نړيوالې ورځې په مناسبت جوړې شوې غونډه کې وويل، چې ياد شوي زر تنه د تېرو شاوخوا اتو کلونو په ناامنيو کې د کار پرمهال د هېواد په بېلابېلو برخو کې وژل شوي دي. هغه له دولت او وسلوالو مخالفانو وغوښتل، چې کارګرانو ته دې ستونزې نه جوړوي، ځکه چې کارګران بې پلوه خلک دي.

ده وويل، چې د دولتي او خصوصي سکتورونو له پراختيا سره، سره اوس هم په افغانستان کې په سلو کې ۷۵ کارګران بېکاره دي.

نومورې له دولت څخه وغوښتل، چې د کارګرانو تنخواګانې لوړې، د هغوی لپاره د بيمې سيستم فعال او له هېواد څخه بهر د افغان کارګرانو حقونه تضمين کړي.

دده په وينا، دولت بايد د بنسټيزو پروژو د پلي کولو له لارې د بېکارۍ کچه راټيټه کړي او د دې لارې چارې برابرې کړي، چې افغان کارګران چې په سختو شرايطو کې په بهر کې کار کوي، هېواد ته راستانه شي.

هغه د دولت د اداري اصلاحاتو پر پروګرام نيوکه وکړه او ويې ويل، چې د ډېرو کسانو د بېکارۍ لامل شوی دی.

د ياد شوي پروګرام له لارې په دولتي ادارو کې خلک له زمينې وروسته پر دندو ګومارل کېږي او د دې پرځای له وهلو څخه وروسته يې تنخواهم د کارکوونکي دندې او کاري سابقې ته په پام سره، لوړېږي.

د افغانستان د زحمت کشانو او مزدورانو د اتحاديې مشر ډاکټر لياقت عادل هم، ددې ورځې په مناسبت د هېواد او نړۍ له ټولو کارګرانو سره د يووالي خرګندولو ترڅنګ له اړوندو چارواکو وغوښتل، چې د کارګرانو ستونزو ته **۳مخ**

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۶۵۴۴۷۵۷ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۵ ۶۲ ۵۹ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com